سلطان جان کلیوال

۱۰,۰۱,۲۰۲۱

# اندېښنې

د ځوانې شپې وې په سودا تیرې شي

څه په ژړا څه په خندا تیرې شي

یوځه لا هم د کوم وصلت په خیال کی

په شوګیـرونو تر سـبا تیرې شي

د پیغـورونو هغه سـختې شـیبې

بیا راتازه شي بیا په ما تیرې شي

ځلوېښت کلنې تورې تورې کاغې

زما د سـر د پاســه بیا تیرې شــي

د قـاتـلانو نــوې نــوې ډلــې

بیا د دی وران کلی په خوا تیرې شي

د وزرماتـو تـوتـکیو سـېلونه

وینمه خوب چې په هـوا تیرې شي

مرې اندیښنې د کلیوال په زړه کی

بلې ، ژړا ته د بـودا تیرې شي.

جنوری/۲۰۲۱

کانادا



د سلطان جان کلیوال د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی.



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com